


د معلوماتو پاڼه

# په کورنۍ کې څو ژبنيزم

آيا ستاسو ماشوم په څو ژبني محيط کې وده کوي؟ مبارک دې وي: تاسو هغه ته ځانګړي فرصتونه وړاندې کوئ! د يوې قاعدې په توګه، ماشومان په څو ژبو چاپيريال کې په اسانۍ سره بله ژبه زده کوي. تاسو کولی شئ پدې کې د خپل ماشوم ملاتړ وکړئ.

# په کورنۍ کې څو ژبنيزم

PASCHTU

## په کور کې باید په کومه ژبه خبرې وشي؟ - د مور او پلار مورنۍ ژبه!

ډیری وخت دا ښه وي که مور او پلار یا د کورنۍ نور غړي هر یو له ماشوم سره په هغه ژبه خبرې وکړي کومه چې هغه ته ډاډمن او راحته احساس ورکوي. معمولا دا مورنۍ ژبه وي. ستاسو ماشوم تاسو ته په مورنۍ ژبه کې د رول ماډل په توګه اړتیا لري ترڅو دا په خونديې ډول ترلاسه کړي. په ورته وخت کې، دا د نورو ژبو زده کولو لپاره ښه شرایط لري.

## ماشومان خپلې ژبې سره ګډوي او میچ کوي!

د ماشومانو لپاره عادي ګڼل کیږي چې د یوې نوې ژبې زده کولو سره په پیل کې ځینې غلطۍ وکړي. ډیری وختونه دا غلطۍ ښيي چې ماشومان د آلماني ژبې زدکړې ته په سمه لار روان دي: د مثال په توګه دوی ارتیکل پریږدي („gib mir Blatt") په ځای د („gib mir das Blatt" یا هم د اضافه حروفو برخه کې دوی اشتباه کوي („bei Baum") په ځای د(„auf dem Baum" . ډیری وختونه څو ژبي ماشومان هم د یو څه مودې لپاره خپلې دوه ژبې سره ګډوي، د مثال په توګه „دا زما بال دی" ، کوم چې د ژبنی وړتیا د ډیروالي نښه ده.
که تاسو ډاډه نه یاست یا کومه پوښتنه لرئ، تاسو کولی شئ د ورکتون ښوونکو یا ستاسو د ماشومانو ډاکټر څخه مرسته او مشوره ومومئ.

## ورکتون ته په منظمه توګه ورتګ ماشوم سره د آلماني ژبې په زده کولو کې مرسته کوي!

اندیښنه مه کوئ که ستاسو ماشوم ورکتون ته د شاملیدو په وخت کې آلماني خبرې نشي کولای. په هرصورت، خپل ماشوم سره په خپله مورنۍ ژبه خبرې کولو ته دوام ورکړئ. هغوی به په ورکتون کې د ښوونکو او نورو ماشومانو سره په خبرو کولو سره آلماني زده کوي.
د دې کار لپاره دا خورا مهمه ده چې ستاسو ماشوم په منظم ډول ورکتون ته لاړ شي. څومره ډیر ځله چې ستاسو ماشوم د آلماني ژبو ماشومانو سره وي د- مثال په توګه، په ورکتون کې، د لوبو په میدان کې یا د جمناستیک کلب کې د لوبو په وخت کې، نو ډیر ژر به ماشوم په طبیعي ډول آلماني ژبه زده کړي.



## خبرې کول په زړه پورې کار دی!

خپل ماشوم سره د وختونو د دوی د تجربو په اړه ډیرې خبرې وکړئ. کیسې وواياست، کتابونه ورته ولولئ یا یوځای لوبې وکړئ. مهمه نده تاسي دا کار په کومه ژبه ترسره کوئ، په هر صورت تاسو خپل ماشوم ته ورتیا ورکوئ چې مثبت احساسات، کیسې او تجربې د خپلې مورنۍ ژبې سره وصل کړي او پدې توګه د دوی د ژبنی ودې ملاتړ وکړئ.

## ناڅاپه زما ماشوم یوازې په آلماني ژبه خبرې کوي!

ځینې کورنۍ راپور ورکوي چې داسې مرحلې شتون لري چیرې چې ماشومان یوازې آلماني خبرې کوي او د کورنۍ د ژبې کارولو څخه ډډه کوي. دا د اندیښنې وړ خبره نده. په دوامداره توګه د خپل ماشوم سره په خپلې ژبه خبرې کولو ته دوام ورکړئ. د اوریدونکي په توګه، ستاسو ماشوم کولی شي خپلې ژبې ته وده ورکړي او یقینا وروسته به بیا خبرې پرې وکړي

## د ډیری ژبو سره وده کول یو ښه فرصت دی!

تاسو کولی شئ په دې ترتیب د څو ژبو په زده کړې کې د خپل ماشوم ملاتړ وکړئ، تر څو هغه خپل بیلابیل ژبني مهارتونه په مختلفو وضعیتونو کې تجربه کړي او په کار یې واچوي. ستاسو مورنۍ ژبه او کلتور همدارنګه عامه آلماني ژبه هم باید ستاسو د ماشوم لپاره معنی ولري. ستاسو له خوا د ماشوم ټولو ژبو ته اهمیت ورکول یو د ستاینې وړ چلند دی، او دا ضروري هم ګڼل کیږي چې ستاسو ماشوم هڅوي چې خپلې ژبې وکاروي او د دوی ژبني مهارتونه ستاسو د کورنۍ ژبو او په نوې آلماني ژبې کې پراخه کړي. دا ستاسو ماشوم د ورکتون او ښوونځي لپاره چمتو کولو لپاره یوه ښه لار ده.



Diese Maßnahme wird mitfinanziert durch Steuermittel auf der Grundlage des vom Sächsischen Landtag beschlossenen Haushaltes.

SACHSEN